استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

ارسالی: سلیم سالم سه شنبه ۲۴ می ۲۰۲۲

# غزل

یو قدم چې په خلاف د نفس روان شي په هغه زمان ولي هغه انسان شي
چې د نفس په حکم درومي هغه خوار وي سریتوب ورځخه غواره شیطان شی
دا سری چې پرشته دی هم شیطان دی که سري و خپل عمل ته نګران شي
یو په بدعمل کې ځي تحت الثری ته بل په ښه عمل کې په اسمان شي
دا سری دي چې په عقل کې سري دي دا سري دی چې په عقل کې ددان شي
**دا خو نه په توپک په توره نشي** دا خو نو نه چې د خلقو په زبان شي
تربیت که د باغوان د لاسه مومي په هر ځای باندې ګلونه و بوستان شی
هر استاد سره چې کښیني یو څو ورځې د هغه هنر په ده کې نمایان شي
د نیکونو په صحبت کې بد ښه کېږی اولیا له اولیا نه را عیان شي
چې مغولو سره کښیناستې مغول شي د افغان سره چې کښینی نور افغان شي
د خوشحال سره که کښیني یو څو کاله
دا د غره ختک په وار شاعران شي

خوشحال خان ختک – ۱۰۲۲ ه ق – ۱۱۰۰ ه ق

salamwatanam@gmail.com